مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولی ناروغ

۲۰۲۰/۱۱/۱۲

# غـزل

په خپل حسن دی ځنځیر او زولانه کړم
بــی اختـیـاره دې اختـیـار وهـلـی کـج

ښکلي حورې دې په خیال کې کلا بندې
تــر آسـمـانــه دې دیـــوار وهــلــی کـج

د حـرم د بـاغ ښـکلا کې دې اور بل کړ
پـــه ګـلانـــو کــې دې خـــار وهـلـی کـج

پـه تـیـارو پـسې رڼـا بـیـرتـه تیاره کړې
یــو دې شـام بـل دې سـهـار وهـلی کــج

پـه شباب کې دې خـمـونه جوشانده کړل
پـــه دوزخ کـــې دې انـــګـــار وهلی کـج

لاس تـړلی دې تـوبـو تـه پـه سجـده کړم
پـه پـنـدار کـې دې کـردار وهــلــی کـج

عبدالله به سر لـه چا سـره پـه جـنـګ شي
سپـیـن امـــام چې وي دستار وهـلـی کـج

ولی ناروغ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ